ژباړه او هڅه: رحمت آريا

۲۰۱۰/۰۱/۱۹م

# د هېڅچا د واکمنۍ ګډی پر مستند فلم لنډه کتنه

دولسمه برخه

ناصر پور پيرار: دا په خپله د ککړې ننداري يوه بله پرده ده چې د يهودو فرهنګي چارواکي بايد ورته ځواب ووايي. تاسو پوهېږئ چې ويل دورانت د تأريخ پر ټولو ګوټونو خبر وو او لاس يې بر وو ، د تأريخ له ټولو لوړو ژورو او کږليچونو خبرې کوي ، د تأريخي پيښو په اړوند کلکې ډغرې وهي، د هغو پيښو په اړه چې په نړۍ او د ملتونو په تأريخ کې راپيښ شوي دي خبرې کوي، د فرهنګونو، دودونو او د هغوی د مخنيو په اړه توري باټې وهې ، ان د نوح د توپان په اړه خبرې کوي ، او د نړۍ پر تأريخ او تمدن د هغه د اغيزو په اړه خبرې کوي؛ سره له دې چې د پوريم په اړه په تورات کې يوه ځانګړې څپرکۍ بيله شوې ده او داسې ځانونه را څرګندوي چې ګڼې تورات يې له اره نه وي لوستلی او يا يې د پوريم په اړه هېڅ نه وي اوريدلي، دا يوه غير طبيعي خبره ده يا يې هېڅ د پوريم برخه نه ده لوستلې. څرګنده چې له کومه ځايه ورته لاربښوونه شوې ده. که نه د يول دورانت شان سړی به ناشونی وي چې له پوريم سره آشنايي ونه لری. تاسو د نړۍ په هرې ژبې چې تاريخي کتابونو ليکل شوي وي په سر ليک کې يې د پوريم کلمه نه شـئ موندلای. هېڅ جا نه دي ويل چې دغسې يوه پيښه دې رامنځته شوې ، زه نه وايم چې بشپړه سپړنه او تفسير يې نه دی کړی اصلاً ويلي يې نه دي چې ګڼې په منځني ختيځ کې دې دغسې يوه پيښه رامنځته شوې وي. دنړۍ مالوماتي انسايکلو پيديا د پوريم په اړه توضيح نه لري. له دې امله دا مخکې له مخکې پلان شوې خبره ده. دا طبيعي نه ده. هغوی غوښتي چې د خبرې پر خولې برغولی کښيږدي. همدغو کسانو د درغلن تأريخ په جوړولو چې د درغلنې او تېګمارۍ لمنه يې ډيره پراخه ده غوښتي د پوريم پر خولې چې د سيمې د وروسته پاتې والي لامل دی او تر نن ورځې پورې چا نه دی پيژندلی برغولی کښيږدي. نن دغه خلک وايي چې د منځني ختيځ او بين النهرين د وروسته پاتې والي لامل اسلام دی، پام مو دی. نو اوس ورته پام وکړئ چې دغه چلوټه او درغلنه له هره ګوټه او په هرګوټ کې پلې شوې ده. اسکندر ته ونډه ورکړل شوې ، اسلام ته ونډه ورکړل شوې او مغولو ته ونډه ورکړل شوې خو ددغه وروسته پاتې والي اصلي مرتکب ورک دی.

پوښتنه : که تخت جمشيد يو بشپړه ودانۍ نه وي نو په کوم دليل ادعا کيږي چې اسکندر راغی او دغې ودانۍ ته يې اور واچاوه؟ دغه درغلنې څه اغيزه لري؟

ناصر پورپيرار: حقيقت دا دی چې نن موږ دومره په منطق ، استدلال او لاسوندونو سمبال يو چې په ډيرې سادګۍ او آسانۍ په زباد رسولای شو چې د هخامنشيانو په نامه ستروواکۍ زموږ په سيمه کې هېڅ شکل او بڼه نه ده نيولې او نيولی يې هم وي ترهغې کچې بيخونده او بې سيکه ده چې ځانته د يوې حکومتي ودانۍ په جوړونه کې يې وسه نه درلودله چې د هغه په مرکزيت کې خپله پښه ټينګه کړي، له دې امله دا يوه سياسي – پوځي ټولګه ده چې ډير لنډ ژوند لري. له هغه وروسته وينو کله چې د واکمنو د لړيو يا يوه پوځي ټولګه د خپلو چارو د ادارې لپاره مرکزيت ونه لري او يا موږ په دې يو برياليي شوي چې ورته ويې مومو څنګه کيدای شي دغسې يوه بې سارې ستروواکي دې په دومره زور ، ځواک او پراخوالي ناڅاپه زموږ د سيمې له جغرافيې ترۍ تمه شي او يا دې په خاورو ننوځي او ورکه دې شي ؛ تاسو پوهيږئ چې زموږ سيمه د لرغون پيژندني له اړخه د نړۍ ډيره حساسه سيمه ده او هرګوټ يې لرغون پيژندونکو په بل مخې اړولی او را سپړلی دی. په دغه سپړنه کې له هخامنشيانو څخه يوازينی شی چې موږ موندلی دی يوازې او يوازې همدغه تخت جمشيد دی ، که تخت جمشيد يوه نيمګړې ودانۍ او جوړښت وي چې هېڅ ورڅخه ګټه نه ده اخيستل شوې نو دغه ستروواکي هم يوه لنډمهالي ستروواکي وه چې تر کيږديو لاندې يې ژوند کاوه. له دې امله د همدغې فرهنګي پلټنې په لړ کې موږ په زباد رسولای شو هغه اوتې بوتې چې د هخامنشيانو په اړه ويل شوي چې ګڼې يو سلو شل ايالتونه او هيوادونه يې تر لاس لاندې ول او د هغوی د ادارې کيلي ددوی په لاس کې وه هسې منځتشې کيسې دي او بس. دوی ادعا کړی چې هخامنشيانو له هنده نيولې تر حبشې پورې سيمې اداره کولې تاسو په دغو يا نورو سيموکې چې د هغوې د ادارې ادعا په کې شوې يو مرکزيت راښکاره کړئ ، يا دداسې يو چا نوم واخلـئ چې د هخامنشيانو په نامه يې هلته حکومت کړی او سيمه يې اداره کړې وي ؛ تاسو خو هېڅ شی نه لرئ ، يو کوشنی لاسوند راښکاره کړئ ، په ټوله نړۍ کې د هغوی په نامه څه نه لرئ. تخت جمشيد د هخامنشيانو د پيژند يوازينۍ بيلګه ده چې ډېره ورباندې لګولای شـئ او هغه هم نيمګړې بيلګه ده، نو هغه سياسي، فرهنګي او ان پوځي تورې او باټې چې د هخامنشيانو په اړه ويل شوي د بيلګې په توګه پر يونان د خشايارشاه لښکري بريد هسې بې بنسټه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خبره ده ، خشايارشاه په دې نه دی بريالی شوی چې ځانته په تخت جمشيد کې يوه کوټه جوړه کړي ځنګه کولای شي او په کومو امکاناتو، د کوم اداري او پوځي مرکزيت په درلودلو يونان ته تللی، خپل سرتيرې يې چيرې ساتل ، هغه خپل ځان ته د اوسيدنې ځای نه درلود ، لښکريانو يې خپل آسان او لوژيستيکي توکي يې چيرې ساتل ؟ تاسو د روم ستروا‌کۍ ته وګورئ چې د آثارو پاتې شوې برخې يې د اروپا په هرګوټ کې وينئ ؛ تاسو کولای شئ دغه آثار په اطريش ، آلمان، پولند، په خپله ايتاليا يا ان په يونان او بين النهرين کې وګورئ. کله چې تاسو خوځيږئ نو له خوځېدا سره سم بيلابيل يوناني او رومي آثار وينئ . کله له پله سره مخامخ کيږئ ، هلته سپورتي ستيديوم دي او دا او دا. ښه ! تاسو راته د هخامنشيانو يوه طويله راښکاره کړئ چې موږ يې وګورو ؛ هغوی کوم پُـل جوړ کړی دی ، سپورتي ستيديوم يې چيرې وو ، مزدک [ معبد] يې چيرې وو ، داسې خو نه کيږي چې هرڅه زړه دې و غواړي په خوله يې راوړې او له نړۍ هم وغواړئ چې ستا د د زړه او خوښې وړ په خبرې باور وکړي؟ اوس کله چې دوی له نويو مالوماتو سره مخامخ شوي د ځانګړو تبليغاتو په کولو په ډيرې ککړې او کرغيړنې درغلۍ يې د هخامنشيانو په اړه خوله چوپ نيولې او چا ورڅخه پوښتنه نه ده کړې چې ځنګه دا حکومت ، دا ستروا‌کي او د ستروا‌کانو يو په بل پسې لړې ، د هغوی څواک اوپياوړتيا په زباد رسولای شئ، يوازې په خبرو؟ تاسو په روم کې کلوزوم ته وګورئ چې يو سپورتی ستډيوم دي، ښايي د هغه په اړوند يو شمير افسانې ويل شوي وي چې د بيلګې په توګه دلته زمريانو عيسويان خوړل ، که هرڅه وي خو تر ستيديوم لاندې زمريانو قفسونه خو شته ، اوس موږ نه وايو چې زمريانو به دلته هرو مرو عيسويان خوړل او غير عيسوي يې نه خوړل، خو هېڅکله ويلای نه شو چې دلته هېڅلکه سپورتي ستيديوم نه وو او کله چې زه کلوزوم يادوم ټول پوهيږي چې زما موخه څه ده او کلوزوم څه دی. زموږ په سيمه کې د روم ستروا‌کۍ او د يوناني اغيزو د حضور دومره ډير آثار چې له شماره وتلي ، همداشان په اروپا کې او هېڅ روغ رمټ عقل به دا ونه وايی چې دا تحريفونه دي او بې ځايه ستاينې يې په اړه شوي دي ، او هغه ستاينې يې چې په اړه شوي ځيني وايي چې اغراق په کې شوی خو زه وايم چې لا اوس هم د دغو آثارو په اړه ويل شوې خبرې بيا هم لږ دي ، د هغوی د څواک ، ورهنګرۍ او فني ، هنري ، تکنيکي ، معماري پوهې او نورو په اړه خبرې بيا هم لږ دي ؛ تاسو ماته د هخامنشيانو د پاچايانو د ستري لړۍ په اړه يوه کوشنۍ نخښه راښکاره کړئ چې دا دومره ځايونه ددوی د واکمنۍ تر اودم لاندې ول چې يونان ته تلل ، مصر ته تلل، يو سلو او اوه ويشت ولايتونه يې درلودل، سميې ټول توکمونه يې اداره کول ؛ خبره دا ده چې دغه افسانې يوازې د يوې ځانګړې موخې لپاره جوړې شوې او په لومړي سر کې زه دغو ښاغليو ته وايم دغه هخامنشيان چې تاسو واياست ، دغه د هخامنشيانو ستروا‌کي چې تاسو واياست، تاسو ماته د هغوی يوه کوټه راوښيئ چې هغوی پکې ژوند کړی وي؟

پوښتنه : وروسته له دې چې د تخت جمشيد له مخې خاورې ليرې شوې او مخې يې لوڅ شو ، د کيندنې پرمهال يو شمير ډبرليکي لاسته راغلی، دغه ډبر ليکي د شيکاګو پوهنتون له ځان سره يووړې، پوښتنه دا ده چې دغه ډبر ليکي څه دي ، او ولې د شيکاګو پوهنتون يې بيرته نه راستنوي او ترټولو اړينه خبره دا چې ولې موږ هڅه نه کوو ترڅو ډبر ليکي بيرته را ستنې کړو؟

ناصرپور پيرار : د خواشينۍ ځای دا دی چې دغه ډبر ليکي دوه ډوله دي. يو ډول هغه ډبرليکي دي چې د تخت جمشيد د شمالي ديوال په پانګه کې موندل شوي دي او بل ډول يې د خزانې د انګړې په يوې خونې کې موندل شوي دي. دغه ټولې ډبر ليکې ايلامي دي ، پام مو دی او له هخامنشيانو سره هېڅ تړاو نه لري. زما په اند د ډبرليکو متنونه د لوستلو وړ نه دي، دا يو جلا بحث دی چې زه په ډير لنډيز وربانديې دلته خبرې کوم او هغه دا چې د ايلامي او بابلي ليکنې لوستنه ناشونې ده.



هر هغه څوک چې د ايلامي او بابلي ليکنې د لوستلو ادعا کوي له موهوماتو خبرې کوي. دغه کسان چې وايي دوی ايلامي او بابلي ليکنې لوستلي دي له هغو افسانو خبرې کوي چې ورته جوړې شوي دي ؛ دوی وايي کله چې د بيستون په ډبرليکه کې يې داريوشي ميخي ليکنه لوستلې او د ادعا کوي چې د هغې د رمز په موندنې کې بريالي شوي نو هغه له هغو داريوشي ميخي ليکنو سره پرتله کوي چې ايلامي او بابلي ليکنو کې په هماغه ليکنه کې راغلي دي ، دوی منلې چې دواړه ليکنيزې بڼې يو دي د بيلګې په توګه که د [شاه] ليکنيزه بڼه په داريوشي ميخي کې راغلې نو هغې ورته ليک بڼه هم په بابلي ډبره ليکه کې هماغه [شاه] ده او هم همدغه کله په ايلامي ډبر ليکه کې بايد شاه وي. په دې توګه دوی ته ويل شوي چې که تاسو هر چيرې دغې ليک بڼې ته ليکنه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وليدله نو په ايلامي کې يې هم شاه و بولـئ. ددغو ليکنو ايروگرام توري نه دي بلکه د نخښو ټولگه ده لکه د فاصلې کرښه ، د مصر انځوريزه توري او داريوشي ميخې توري. دغه ليکنه له داريوشي ميخې ليکنې څخه لږ پيچلې او له مصري هيروکليفي ليکنې لږ آسانه ده. پام مو دی. ښه که موږ دغه داستان هم ومنو نو يوازې په ايلامي يا بابلي ليک بڼو کې هغه ليکنې لوستلای شو چې داريوشي ميخي ليکنې کې معادل ولري ، په داريوشي ميخي ليک بڼه کې خو ټول لغات نه شته لکه گوربت ، ډوډی ، بسم الله يا سلام او يا نور شيان ، دلته يوازې ۵۰۰ يوگړي کلمات دي ، په يوې ژبې کې په زرگونو زرگونو واژې وي. هغه څه چې په هغو ډېرليکوکې شته د هغوی ايلاميتوب يا بابليتوب موږ ته راڅرگند نه دی. دلته د تورو او کلماتو تشخيص او پېژندنه اړينه ده. دوی په فرضي ډول کار کړی دی. د بېلگې په توگه که يوه نخښه له [الف] ، [ د] او[ ز] څخه جوړه شوې وي چې ] اَ دَز] ورڅخه جوړېږي او ورته ويل شوي که تاسو هرچيرې ادز وليد نو ادز يې وبولی په څه معنی ؟ موږ بله ډېرليکه نه لرو چې هغه په ايلامي کې ادز ومنو چې ادز دې په داريوشي ميخي کې هم راغلې وي ، نو دلته د قياس او انگيرنې پربنسټ وايي چې له ادز څخه موخه هماغه زموږ [ عـدَس ] دی. بيا همدغه که همدې ورته شی يې په ايلامي او بابلي کې ليدلی نو هاغه يې هماغه ادز بللی دی .... دا خبرې خو ناشوني دي او باندنۍ نمونه هم نه لري. په دې توگه ددغو ډبر ليکو په اړه ليکل شوې افسانې ډېرې دي لکه وايي چې اميدواره مېندو ته د اميدوارۍ حق ورکول کيدله او يا نور چې هېڅ د منلووړ نه دي ، يا کارگرانو ته يې اضافه کاري ورکوله ، بيمه يې درلودله ، د کورناستۍ حق يا تقاعد يې درلود ، دې ورته بې بنسټه او منځتشې افسانې يې ډېرې ويلي تر څو د هخامنشيانو ډېره ستره وبرېښې او وپې پړسوي ؛ دوی دغه افسانې په داسې حال کې جوړې کړې دي چې ټولې ايلامي، يا يې د ايلامي له زرقورو له مخې جوړې کړي حال دا چې هخامنشيان له ايلامي سره هېڅ تړاو نه لري، دوی د هغوی د خپل منځې له اړيکو خبرې کوي ، دوی ادعا کوي چې موږ دغه ډبر ليکې لوستلې دي يوازې په دې موخې چې د هخامنشيانو د واکمنانو لړۍ ژوندۍ وساتي. پرته له هغې تاسو ته په ډاډ ويلای شم او تاسو ته په زغرده په زباد سولای شو هماغسې چې هخامنشيان په تخت جمشيد کې نيمگړي پاتې شول د پوريم له پيښې وروسته د ټولو هخامنشيانو ټغر هم ورسره ټول شو ، ځکه په سيمه نور داسې څوک پاتې نه شول چې ستروا‌کۍ ته اړتيا وليدل شي ، يهودان د پوريم له خونړۍ وينې بهونې وروسته خپل يهودي ټاټوبي اورشليم ته ولاړل او هخامنشيان چې په خټه د پخوانۍ اسلاو او د نن ورځې روسيې د خِزر له توکمه ول بيرته خپل پلرنې هيواد ته ولاړل. موږ په دې اړه پريمانه لاسوندونه لرو او ما په خپلو کتابونو کې ورڅخه يادونه کړې ده.








افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

[ دوازده قرن سکوت!] [ پلی برگذشته]

له دې امله په نړۍ کې د هخامنشیانو د سترواکۍ په نامه عیني واقعیت نه لري ، له دې چې تخت جمشید یوه نیمګړې تولګه ده نو باید وپوښتنو چې ددغې سترواکۍ د پاچایانو د لړۍ مرکزیت چیرې وو. تاسو په ټول ایران کې له تخت جمشید پرته بله داسې ودانۍ نه لري چې ادعا وکړۍ او ووایاست چې دا د هخامنشیانو د حکومت مرکزیت وو یا یې هلته لیږدولی وو.

پوښتنه : موږ په تخت جمشید کې له یو شمیر ورانیو او نړونو او له یو شمیر درغلنو او سازښتونو سره مخامخ یو. له دغو خبرو څخه موخه څه ده ؟ ولې دومره ورانۍ په لوی لاس وشوې ؟ ولې په تخت جمشید کې دومره سازښتونه رامنځته شول؟ د یوې ودانۍ نړول د درغلۍ لامل ګرځي خو په تخت جمشید کې موږ دواړو وینو هم نړول کیږي او هم وربانديې نور شیان ور زیاتیږي او دا ټول درغلۍ او ټګمارۍ ته لاره پرانیزي او لمنه یې لا پسې پراخوي.

ناصرپور پیرار : دا داسې یو مبحث دی چې ډیر اوږد دی او پراخې جرړې لري او هغو هڅو ته بیرته ورګرځي چې اروپایي پوهنتونونو د ایران د تأریخ په پیلامې کې د بدلون راوستلو په موخه ترسره کړې دي. دغه ټولې هڅې ددغه منځتکي پر شپول راڅرخي چې له هخامنشیانو مخکې ایران هیڅ ډول تمدني ، تولیدي ، ټولنیز ، هنري ، علمي او صنعتي اعتبار نه درلود ، یوازینی شی چې ایرانیان وربانديې ویاړلی شي هغه تأریخ دی چې له هخامنشیانو را پیلیږي. په ایران کې د ایران پیژندنې په اړوند هرهغه هستي چې له هنر ، صنعت او پوهې ، تکنیک او قانون سره تړاو لري یعنې هغه واقعیت چې په زباد رسیدلای شي او که له هخامنشیانو مخکې ټکي په ځان کې نغښتي ولري باید له منځه ولاړ شي ترڅو هخامنشیان د یوه ملت د تأریخ د پیلامې په توګه و پیژندل شي.

دوی دغه کار کړی دی اولمن یې یوازې په تخت جمشید پورې نه راتړل ، د ایران دتأریخ په اړه ډیرې نورې بنسټیزې خبرې شته چې موږ یې نه شو کولای د خبرو اترو په یوه ساده باندار او یا د د یوې ځانګړې سیمې په اړه د یوه لنډ مستند فلم په رامنځته کولو وربانديې بسنه وکړو. یوازینی ټکی چې ویلای شو دا ده د یهودو ملت د بل هر ملت په څیر له ځانه ددفاع حق درلود ، دغه دفاعي حق یو ملت په هر وخت او هر چیرې درلودلای شي ، یهودیان هم یو ملت دي ، دا چې د یهودي ملت لار رویانو او پلویانو د خپل ژوند د پاینت لپاره ناوړه لارې غوره کړې دي دغه لارې ددې لامل ګرځي چې هغوی د نړیوالو په منځ کې او د ایران د تمدن او فرهنګ په منځ کې لا ګوښي شي ، دا یو جلا بحث دی د یهودانو یو له دغو ناسمو او غلطو کارونو څخه د ایران ولس ته تأریخ جوړونه ده. هغوی د درغلۍ او ټګمارۍ لمنې ته په پناه وړلو د یوه ملت تأریخ یې ګډ وډ کړی دی. نه یوازې د ملت تأریخ یې دړې وړې کړې بلکه تر دې بد ترینه کار یې دا دی چې د سیمې د ملتونو په منځ کې یې بیلتونپالنې ته لمن وهلې ده او د بیلتانه زړي یې کرلي دي. دا د پوریم ناورین دی چې نه یوازې د سیمې هستي ، پانګه او شتمني یې دړې وړې کړې بلکه د ډیر اوږد مهال لپاره یې د انساني پرمختګ لړۍ په ټپه درولې ده. د یهودو تأریخ لیکنه وایي نه. دا اسکندر وو چې راغی او دچا خبره ستاسو تمدن یې در دړې وړې کړ. ترڅو چې تاسو خپله ملا بیرته سموله او په پښو دریدلـــئ سمساره خوړونکي عربان راغلل تاسو یې وخوړلـئ او هر څه مو چې جوړ کړي ول هغه یې درته دړې وړې ټوټې ټوټې کړل. کله چې تاسو بیا غوښتل ځان له تأریخي ، صنعتي ، فرهنګي او هنري اړخه په پښو ودریږي د ورانۍ دریمه څپه چې د مغولو ناتار وو پرتاسو باندې راغی. دا ترکان ول چې تاسو یې دغې ورځې ته راوستلـئ. تاسو اوس ورته ښه پام وکړئ چې د سیمې او نړۍ د تمدنونو د ورانۍ د جرم تورونه یهودانو تیت کړل او د اسکندر ، عربانو او مغولو په منځونو کې وویشل. په دې توګه هیڅ څوک له پوریمه خبر نه لري ، ټول یونانیانو ته سپکې سپورې وایي ، عربانو ته سپکې کوي یا یې تورکانو ته. دا چورلټ ټګماري ده. دا ددې څرګندویه ده چې ددغه ملت پوهان دې ته چمتو نه دي چې له خپلو ګاونډیو یا تمدن سره د یوه سم فرهنګي ، تأریخي ، اقتصادي او سیاسي چلند پر بنسټ راکړه ورکړه ولري. دا خپل سري ده او باید محکمه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

# د هبخ چا د واکمنی گدی؟!




**د هغو لاسوندونو پربنسټ جوړ شوی چې د ناصر پور پیرار**
**د کتابونو په ټولګه« تأملی در بنیان تأریخ ایران» د «نشر کارنګ»**
**د خپرندویې ټولنې چاپ او د « حق وصبر»**
**په ویبپانه کې یې غبرګون موندلی دی.**

د فلم جوړوونکی او لاربنود : مجتبی غفوری
Muji_Jimi@Yahoo.com
اندونیزیا
فلم اخیستونکی : آرش شیروانی
مالیزیا
د فلم اخیستونکي مرستیالان :حسن تقوی او حسن کریمی
کمبودیا
تدوین : مجتبی غفوری
چین
تولیدي مدیر : فرزاد واحدی فر
هند
تولیدي ډله : علیرضا اسماعیلی او محمد شافوری
تورکیه
موسیقی : هست
عراق [ بین النهرین]
انیمیشن : علیرضا بوالحسنی
سوریه
متن : مجتبی غفوری
اردن
ویاند: حسن همائـی
لبنان
فني چاري : مېثم غفوری
مصر
تدارکات : احمد مقدم او کورش نجمی
یونان
لیږد رالیږد: قاسم رنجبر و حسین نوری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ایتالیا
د فلم اخیستي نېټه : ۱۳۸۵ لمریز
مکسیکو
له ناصر پور پیرارسره اړیکه :
A: TelFax : ۰۲۱- ٦٦ ٤٩ ۲۰ ٤٩
B: Pirna٤٤@ Yahoo.com
http://www.Naria.Blogfa.com
http://www.Narialinks.Blogfa.com

د نشرکارنگ له خپرندویي ټولني سره اړیکه :
A: TelFax: ۰۲۱-٦٦ ٤۰ ٦۱۸۳
B:Info@KarangBooks.com
http://www.KarangBooks.com

د پاني پرمخ د ناصر پور پیرار وروستی خبره :

مسائل جدی تره !

پای

یـــادونـــه:
د فلم د لیدلو لپاره د تحلیل د ځانگي کېنې خواته د تلویزیون های افغاني تر کړکی لاندې د آ گ او تی وی د مستندوفلمونو په برخه کي و گوری!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ